او پـدې ترتیب عقیده لري «څومره چې د ټولنې تولیدی وسایل او تولیدی اړیکې پرمختللي، پیچلي او ژوري وي هغو مره نور ټولنیز جریانونه، واقعیتونه او پدیدې د بدلون پر وخت د پرمختللي، پیچلي او ژور تحول سره مخامخ کوي» د مارکسیزم له نظره د «انقلاب» اصلي ریښه یوازې او یوازې په د وو قطبو باندې د ټولنې ویش ده.

او دا ویش د ټولنې په تولیدی طرز کې ریښې لري. د دې تحلیل له مخې هغه څه چې پرمختیا او تکامل ئې پرته لدې چې د انسان ابتکار، اراده او غوښتنه پکې رول و لوبوي صورت نیسي «تولیدی وسایل» دي.

او دا «تـولیدی وسایل» «د پـر مختیا» او «بشپړتیا» په هر پړاوکې ځانگړي حقوق اړیکې جوړوي چې دا اړیکې نور اخلاق، مذهبي، فلسفي، علمي، هنري او . . . مسایل له ځان سره رامنځ ته کوي. پدې ترتیب د تولیدي اړیکو او تولیدی مناسباتو ترمنځ د یوې مودې لپاره انډول او توازن ځای په ځای کیږي.

خو د وخت په تیریدو سره د تولیدی «وسایلو د پرمختیا په نتیجه کې د تولیدی اړیکو او تولیدی وسایلو د انډول او توازن له منځه تلل د طبقو ترمنځ اړیکې گډوډ وي.

د دې گډوډۍ په ترڅ کې خلک په د وو قطبو ویشل کیږي یوه ډله د زاړه نظام او اړیکو پلویان وي او بله ډله چې له هرڅه نه بې برخې وي او دا بې برخې والی دوی ته یو ډول احساس ورکوي خو د نوي نظام او اړیکو د رامینځ ته کیدو په جهت کې په انقلاب لاس پورې کړي.

او پدې ترتیب د برخوال او بې برخې ترمنځ داد گټو اختلاف دی چې بې برخې طبقه د حاکم نظام او اړیکو پر ضد په سر غړاوی او انقلاب پیل کوي او د مارکس په گومان دا انقلابي طبقه چې روڼ فکره او جدي ده د زیږښنا کگری طبقې سره چې ارام ژوند یو ډول سستي ور په برخه کړیده پدې اخ و ډب کې بری ته رسیږي. نو پدې اساس مارکسیزم وائي چې که څه هم انقلابونه د ظاهري څرنگوالي له مخې بیلې بڼې ولري یعنې ځینې علمي وي لکه رنسانس او که ازادي غوښتونکي (!) وي لکه د فرانسې او یا کارگري وي !!! لکه د اکتوبر ۱۹۱۷ فاجعه خوریښه او ماهیت د ټولو یو دی د دې نظر په مقابل کې بله نظریه د اسلام ده. د انقلاب او د هغه ماهیت په باب د اسلام تحلیل او قضاوت د انسان او ټولنې په باب د همدې مکتب د تفسیر، تحلیل او توجیه نه سرچینه اخلي.

د اسلامي لید له مخې «انسان» د مارکسیزم پرخلاف د یوې تشې فیتې حیثیت نلري او نه د یوې خاصې مادې په څیر ده چې دهر ډول میکانیکي شرایطو د غوښتنې سـره سم دې رنگ، ریښه او شـیره ونیسي. بلکې انسان د یوه تخم یانیالگي په څیر ده چې دبشپړتیا او پرمختیا په خوا حرکت ئې «دینامیکي»

ده «نه میکانیکی».

یعنی د بشپړتیا او پرمختیا په لوری دا حرکت د بهرنیو شرایطو لخوا نه پری تپل کیږی بلکی د هغه د مزاج او طبیعت غوښتنه ده چی د کمال په لوری یون وکړی.

د اسلامی نړی لیدله مخی فرد د ټولنیزو واقعیتونو او حرکتو جبری پیرونده. بلکی فرد کولی شی د ټولنی حالت او مسیر بدل کړی. د فرد اراده، ازادی او اختیار کولی شی د ټولنیز او محیطی جریان پرخلاف حرکت وکړی. که و غواړو دا حقیقت په علمی ژبه تعبیر کړونو باید ووایو چی د اسلام له نظره «ساپوهنه» په «متړ پوهنه» رومبیوالی لری.

همدا رنګه د دی نظر یې له مخی د مارکسیزم پر خلاف چی وائی «ټولنیز نظامونه یو ډول هماهنګه وده کوی» ټولنیز نظامونه یو له بله یو ډول استقلال لری. او په مطلقه توګه هیڅ یو هم پر بل باندی او لویت او رومبیوالی نلری.

خو په نسبی ډول که د یوه نظام پر مختیا د بل نظام د کمزورتیا سبب ګرزی، یعنی کیدای شی یوه ټولنه پداسی حال کی چی د تکنالوژی له مخی وروسته پاتی وی خو د فلسفی او نورو علومو له مخی لوړو پوړیو ته رسیدلی وی.

د دی نظر ئی په اساس اصلاً انسان طبعا او مزاجا دوه قطبی موجود ده. چی یو قطب یې په ایمان، عقیده او اخلاقو سمبال شوی او بل ئی د منحطو او حیوان ډوله غرایزو مجموعه ده. په ایمان عقیده او اخلاقو سمبال قطب ټولنه د کمال په خوا رهبری کوی. او ټولنه د هر ډول طبیعی، محیطی، ټولنیزو او تاریخی عواملو له تسلط څخه باسی. پدی مکتب کی د «تکامل» مفهوم د ځان اصلاح او په نفس اعتماد دی.

پدی فکری نظام کی نه یوازی دا چی انسان د ټولنی، تاریخ او طبیعت محکوم او مجبور نده بلکی انسان ته هغه وخت یو متکامل انسان وائی چی د بهرنی او داخلی محیط له تسلط نه بچ وی.

د دی نظر ئی له مخی د تاریخ د تکامل حرکت د حق په لوری په عقیده، ایمان او ارمان پوری د وصل کیدو او له بهرنی طبیعت، محیطی، ټولنیزو او نفسانی عواملو څخه د انسان ژغور نه ده.

د دی مکتب له مخی د مارکسیزم پر خلاف چی د انسان ټول مادی او ما نیزی ځانګړتیاوی او تګ لاری د ټولنی نه اخیستل شوی بولی د انسان په وجود کی د «فطرت» او «وجدان» دشتوالی ژوندی اوعملی رول دهغه په وګړنی اوټولنیز ژوندکی په رسمیت پیژنی او د مارکسیزم پر خلاف «انسان» د یوه داسی بی ارادی موجود په څیر نه تفسیر وی چی وائی «د ټولنی د مادی حالت یعنی تولیدی وسایلو او تولیدی اړیکو د بدلون سره د انسانانو شخصیتونه، عقیدی، ټولنیز سیستمونه، ټولنیز رژیمونه، سیاسی نظام او سیاسی طرز فکر بدلیږی بلکی دا ټول بهرنی شرایط د انسان د مزاج محصول ګڼی.

همدا د انسان دوه قطبی مزاج ده چی په دوه قطبه باندی د ټولنی ویش منځ ته راوړی. یعنی یوی خوا ته په عقیده، اخلاقو او عالی انسانی صفاتو سمبال قطب، او بلی خوا ته په حیوانی صفاتو ککړ قطب او پدی ترتیب انقلابونه حتی ټولنیز انقلابونه په دوو قطبو باندی د ټولنی د ویش او له دی نه هم په عامه سطحه یوازی او یوازی د ټولنیزو شرایطو، جهتونو، جوړښتونو، عواملو او اړیکو محصول نه ګڼی بلکی د انقلابونو په منځ ته راتلو کی د انسان دوه طبیعی دوه قطبیز مزاج په بنسټیز نقش عقیده لری. او همدارنګه اسلامی تیوری د انقلابونو انګیزه او «ماهیت» یوازی مادی نه ګڼی بلکی انقلابونو ته په مختلفو انګیزو او ماهیتونو قایل دی.

نوشتهٔ شریف‌الله فقیری

دربارهٔ راه حل معضلهٔ افغانستان

(قسمت دوم)

۴ ـ معضلهٔ افغانستان از دید گاه همسایگان :

همسایگان ما بصورت طبیعی با این معضله در ارتباط هستند و از آن متاثر می باشند ، زیرا وجود قوای متجاوز روس در کشور ما ، امنیت و سالمیت ایران و پاکستان را با خطر جدی مواجه ساخته و از ادامهٔ سیاست توسعه طلبانه و تجاوز گرانهٔ روس ها نگرانی دارند.

گذشته ازین ، سیل مهاجرت مردم افغانستان نیز بسوی این دو کشور جاری بوده و جنبه های انسانی و عاطفی مسأله نیز بر این ارتباط می افزاید.

پاکستان که با کشور ما طولانی ترین سرحد را دارد ، با موجودیت اختلافات پیشین و ادعاهای سرحدی حکومات قبلی افغانستان که همه به نوبهٔ خود متمایل به روس بوده اند و اکنون بعد از تجاوز نظامی ۶ جدی ، قوای روس را در سرحدات خود می بیند در کنار آن به بیش از ۳ ملیون مهاجر افغان پناه داده است ، بیش از دیگران با این معضله در ارتباط می باشد.

نوکران روس در صوبهٔ سرحد و بلوچستان که از دیر زمانی امیدواری روس ها را برای تجزیهٔ این قسمت ها و در نتیجه راهیابی به بحر هند از طریق بندر «گوادر» بلوچستان همراه داشت ، با رویکار آمدن حکومت چاکران مستقیم روس در افغانستان ، می بایست تشدید گردد ولی رژیم دست نشانده در کابل به اندازهٔ در برابر قیام مردم ما در مانده و ناتوان شده است که برای تقویت عمال روس درین مناطق فرصت ندارد و حتی مصروفیت با دارانشان نیز در کشور ما بیشتر است.

ولی امپریالیزم روس بصورت کلی می کوشد تا نخست رژیم لرزان کابل را سر پا نگهدارد و بعد پار افراتر گذارد بناء بر مقامات پاکستانی پوشیده نخواهد بود که روس ها پس از فراغت از معضلهٔ افغانستان د نبال آنانرا نیز خواهند گرفت و این افغانستان است که چون سد سکندر در برابر خط تجاوز روس برنیم قاره و خلیج فارس ایستاده است و مانع عملی شدن پلانهای در از مدت استعمار

سرخ میگردد.

ولی پیوندهای مستحکم و دیرینهٔ دینی، نژادی وجغرافیائی و اثرپذیری از حوادث و جریانات همدیگر حکم می‌کند که پاکستان از معضلهٔ افغانستان نگرانی بیشتر داشته باشد که تا اندازهٔ دارد. باوجود اینکه روس ها به تکرار پاکستان را اطمینان داده اند که پای تجاوز شان به اینطرف «دیورند» در از نخواهد شد ، ولی خوش باوری به وعده ها و قول و قرارهای روس، زهرجانگد ازیست که بعضی حکومات کم و بیش طعم آنرا چشیده اند.

خلاصه اینکه پاکستان از یکسو با خطر جدی تجاوز روس مواجه است از سوی دیگر تعداد روز افزون مهاجرین در پاکستان باوجود کمک های خارجی بذات خود برای پاکستان یک مشکل بحساب میرود.

چون مسائل دوگانهٔ فوق هریک از جنبه های مختلف سیاسی قابل بحث است لهذا به این مختصر اکتفا میکنیم وراه حل معضلهٔ افغانستان از نظر پاکستان بجای خود بدنبال خواهد آمد.

اما کشور ایران که همسایهٔ غربی ماست نیز به نوبهٔ خود از معضلهٔ افغانستان متاثر می باشد. کودتای ثور هنگامی براه انداخته شد که در ایران رژیم در حال سقوط شاه حاکم بود. رژیم شاه که ژاندارم منطقهٔ خلیج و حافظ منافع امریکا و غرب در منطقه بحساب میرفت ، با خطر توسعه طلبی روس نیز مواجه گردید و بر ماموریت آن افزوده شد.

بنا رژیم ایران با پاکستان تماس گرفت و چون خود از حمایت کافی امریکا برخوردار بود ، پاکستان رانیز اطمینان میداد که از سالمیت و تمامیت ارضی آن دفاع خواهد کرد.

رژیم شاه ازین اشارهٔ رژیم تره کی که گویا معاهدات قبلی ملغی خواهد شد ، شدیداً نگران موضوع آب هلمند گردید و جداً در پی کشف حقایق بر آمد. رژیم لرزان تره کی به زودی انکار نموده و خاطر ایران ازین بابت تا اندازهٔ آسوده گردید.

باسر نگونی رژیم منحط و فرسوده شاهنشاهی و پیروزی انقلاب اسلامی و بنیانگذاری جمهوری اسلامی در ایران ، دولت مذکور بنا بر خصلت عقیدتی و سیاسی و مطابق شعار همیشگی انقلاب اسلامی یعنی «نه شرق ، نه غربی» از همان اولین صبحگاه خجستهٔ انقلاب ، ضدیت خود را با رژیم منحوس کمونیستی در کابل ابراز و از جهاد مقدس ملت مسلمان افغانستان حمایه نمود. کشور ایران نیز مانند پاکستان با مشکلات دوگانهٔ روبرو گردید: یکی خطر توسعه طلبی روس و دیگری مشکل مهاجرین افغانی.

دولت جمهوری اسلامی ایران درساحهٔ سیاسی با قاطعیت و انعطاف نا پذیری از داعیهٔ برحق و قیام شکوهمند اسلامی ما حمایت و جانبداری نموده و تجاوز روس و حکومت دست نشاندهٔ آنرا در کابل جدا تقبیح کرده و می‌کند.

تحلیل دولت و ملت مسلمان ایران از معضلهٔ افغانستان اینست که رژیم های دست نشانده با

> ✡ خوشباوری به وعده ها و قول و قرار های روسی، زهر جانگدازیست که بعضی حکومات کم و بیش طعم آنرا چشیده اند .

کودتاهای روسی در افغانستان رویکار آمده و همواره با قیام اسلامی ملت مواجه بوده اند وچون تاب مقابله با جنبش اسلامی رانداشته اند، تجاوزگران روسی با اشغال نظامی کشور ما پرداختند و به قتل وکشتار و غارت دست زدند لهذا رژیم دست نشانده در کابل فاقد هر نوع ارزش و حیثیت قانونی می باشد.

همچنان مشکل مهاجرت رانیز زادهٔ ستم رژیم ها و تجاوز روس ها میدانند که به این صورت تحلیل واقع بینانهٔ معضله می باشد. در سطور آینده ، نظر دولت ایران را در مورد حل معضله ، بیان خواهیم نمود.

اما چین :

چین نیز به نوبهٔ خود از سیاست توسعه طلبانه امپریالیزم روس نگران است زیرا از سال ها قبل روسیه را یک قدرت امپریالیستی میداند ولی در مورد مسأله افغانستان جدی به نظر نمی رسد زیرا امید چندانی به آینده آن ندارد. همچنان نوکران چین نقشی در جهاد ندارند و بقدرت رسیدن شان ناممکن خواهد بود.

و مهمتر از همه اینکه دولت چین به بیماری انزوای سیاسی نیز تا اندازهٔ مبتلا بوده و در سیاست بین‌المللی نقش فعالی ندارد.

با اینهم خط توسعه طلبی روس و حضور قوای آن در سرحدات چین بخصوص منطقهٔ استراتیژیک واخان فوق‌العاده برای چین حایز اهمیت است زیرا درین صورت به محاصرهٔ نظامی ، سیاسی و اقتصادی روس در خواهد آمد.

رویهمرفته عدم ثبات رهبری در چین ومشکلات ناشی ازین ناحیه ، تاثیر بسزائی در سیاست خارجی آن دارد معذلک از گسترش ساحهٔ نفوذ روس با در نظر داشت تجاوز ویتنام به کمبودیا و تجاوز روس بر افغانستان و موجودیت حکومت طرفدار روس و مخالف چین در هند ، فوق‌العاده نگران می باشد. سیاست منافقانهٔ حکومت اندرا گاندی که اکثراً از تجاوز روس حمایت و گاهی موجودیت قوای اجنبی را در یک کشور تقبیح می کند ، هرگز فراموش ملت مسلمان مانخواهد شد.

☆ بر مقامات پاکستانی پوشیده نخواهد بود که روسها پس از فراغت از معضلهٔ افغانستان دنبال آنانرا نیز خواهند گرفت .

هند از کشور هائیست که بارژیم دست نشانده در کابل روابط گرم و دوستانه دارد و در ساحهٔ بین‌المللی نیز از پشتیبانان روس محسوب میگردد که تعقیب این سیاست صریحاً مخالف اصول عدم انسلاک است همان اصولیکه هند از مدعیان آن می باشد.

(ادامه دارد)

آرزو

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
K. P. O.

د منی وروستی ورځی وی ، ژیړی لمرد لویدیځو غرونو خراته نږدی کیده . د لمرزرینو وړانګو خزان وهلوژیړو پانوته داسی رنګ ورکړی و تا به ویل چی د ونو په څانګو د زرو رو پی ځوړندی دی .

د منی سړو با دونو د لویو او وړوونو څانګی خوځولی او پانی یی هری خواته خورولی ، د زیاتروونو څانګی د منی با دونو د شنو او ښکلو پانونه لوڅی لپړی در ولی وی .

هر چا کوشش کاوه ژر ژر ځان خپلو تودو تاوخانو ته ورسوی او د منی له سړو با دونو او یخنی نه په امان کی شی ، د جومات او کوڅونو په لور په تندی سره روان وو ، خو ! یوازی هغه چی سپینی ږیری او کوپی ملائی د-ده د عمرله تیریدانه ترجمانی کوله ، خپله زړه شړی ئی ترځان تاو کړی وه ، د نورو خلکو په خلاف د تودی خونی په لورنه و روان ، د لویی دښتی په لور یی ورو ورو ګامونه او چتول ، سری ښکته اچولی و ، د لږتګ نه وروسته یی خپل مسیر په دښته کی د لویی هدیری په لور بدل کړ ، په هدیره کی ډیر نوی قبرونه او د قبرونو له پاسه شنه او سپین بیرغونه رپیدل ، د غمونو په در یاب کی ډوبه سپین ږیري ترټولونه د ډیر نوی قبر خواته نژدی شو ، د قبر ترخنګ ودرید ، لاسونه ئی پورته کړل ، د لاسونو د پورته کیدو سره سم یی له سترګو نه او ښکی را ماتی شوی ، په نیولی آواز ئی وویل : لویه خدایه ! د نیاز محمد ځ ن شهادت قبول کړه ، یا که ربه ! هغه د واده شپه د شهادت په مقام بدله کړه ته هغه و بخښه ، هغه په ژوندکی ستاد رضاطالبه و او ستاد رضاء لپاره یی په خپلو وینوکی ځان و لمباوه ، یا که ربه ! ته یی وبخښه ، یا که ربه ! هغه شهید دی ، که څه هم هغه زما وراره و خود اولاد نه هم راته ډیر ګران و ، لویه خدایه ! هغه او بخښه .

لمر په ډوبیدو و ، سپین ږیری له ډیروخت دعانه و روسته د قبر له څنګ نه د کلی په لور حرکت وکړ ، څو قدمه به یی چی واخیستل ، بیابه ودرید او د نیاز محمد د قبر په لور به یی وکتل ، او سړی سړی او ښکی به یی له سترګو روانی وی .

نیاز محمد یوازی په خپل تره نه بلکه د کلی په وړو او زړو ګران و ځکه د ده اخلاقو او نیک سلوک د هر چا په زړه کی ده ته ځای پیدا کړی و .

که چه د ثور کرغیړنه فاجعه د مرتد و کمونستانو په وسیله منځ ته راغلهدی پیښی نیاز محمد د نورو با درده مسلمانانو په شان لوی خطرته ځیرکړ او د هغه اسلامی ولولو هغه جهاد او مبارزی ته راوپاراوه، په ډیره زړه ورتیا ئه یی د مرتد رژیم په خلاف وسله وال جهاد ته خلک را بلل .

د ده په شا و خوا کی ځینی داسی کسان هم وو چی د رژیم په راتگ سره ډیر خواشینی وو خود اسلام د انقلابی ایډ یا لوژی نه دبی خبری په وجه به یی د نیاز محمد سره د خبرو په وختکی ویل ورووره ! نور د مبارزی وخت تیر شو ، د توپ او ټانگ سره مقابله دخپل ځان د بیځایه وژنی سره مترادف ده خو نیاز محمد به د خپل ټینګ ایمان په اتکاء هروخت خپلو ملگرو ته په مسکاکی ویل :

گوری که تا سود اسلام مقدس دین ته وگوری او زما په شان مسئولیت درک کړی نوزه باورلرم چه هغه وخت به تاسوما ته د چوپتیا او بی تفاوتی په ځای د اسلام په لارکی د قربانی او سر ښندنی توصیه وکړی خو افسوس . . .

ملگرو به ئی ورته ویل چه نیاز محمده! بیاهم احتیاط ښه دی ، د رژیم ښکاره مخالفت مه کوه خلقیان هر چیری ستاناسته ولاړه ځاری .

نیاز محمد چی د ایمان ډیوه یی په زړه کی بلیده نه د خلقیانو د تهدیدونو تر اثر لاندی راته او نه ئی د جبن او ویری خبرو ته غوږنیوه . هغه به په ښکاره خلکو ته د رژیم الحادی څیره څرگندوله او خلک به ئی وسلوال جهاد ته را بلل .

دی چی د غزنی د "اندړو" د والسوالی د غبرگونی د کلی او سیدونکی او د ننواز دضاکی په لومړنی ښوونځی کی یی د ښوونکی وظیفه درلوده په ۳۵۷ ؛ کال کییی د جهاد ډگر ته د پوره امادگی لپاره د هجرت پیتی و تاړه ، په هجرت کی د لږ مودی تیرولونه وروسته د ۱۳۵۸ کال په لومړیو وختو کی د خپلو نورو ملگرو سره د جهاد په نیت دارگون د جبهی په لور روان شو .

د جهاد له دغو سپاهیانو سره زه هم تر یوه ځایه ملگری وم . د لاری په اوږ دو کی د ماسپین د لمانځه لپاره یوه جوسات ته لاړو، په جوسات کی یوه سپین ږیری سړی چی داسی څرگندیده د دنیا له ښواو بدو نه بی خبره دی پوښتنه وکړه ځوانانو چیرته روان یی .

ترټولو د مخه نیاز محمد ځواب ورکړ او ورته وي ویل : باباجانه شهادت ته روان یو . سپین ږیری په حیرانتیا پوښتنه وکړه : زویه دا څه وایی مرگ ته روان یی ؟ نیاز محمد په مسکاکی چه د ده عادت و ورته وویل : بابا جانه هغه مرگ ندی ژوندی ، شهادت د یو مسلمان د ارمان پوره کیدل دی او . . .

نیاز محمد د ارگون په جبهه کی د څه وخت نه وروسته دخپل اصلی ټاټوبی (اندړو) په لور روان شو . هلته چه لاد مرتد ژریم تسلط څه ناڅه برقرارو او د وحشت ، ترور او اختناق فضاً لاموجوده وه ، نیاز محمدد خپلو ملگرو سره په همدی نا مساعده فضاء کی د جهاد بیرغ پورته کړ او د سیمی مسلمان خلک یی د ژریم په خلاف پا څون ته را و بلل .

هو! دنیاز محمّد دواده سره سم دهغه دلویښه دلوی ارمان دپوره کید ونیته هم پوره شوی وه؟!

خلکو د دوی دعوت ته لبیک ووایه او د رژیم په خلاف جهاد او مبارزی ته آماده شول ، د حق د لاری ددی سرښندونکو سپاهیانو او د باطل د وحشي پلویانو ترمنځ وسله والی نښتی پیل شوی.

نیاز محمد او ملګرو یې د خلقیانو ، پرچمیانو او روسانو سره په ډیرو جګړو کې برخه واخیسته چې په جګړه کې د ده زړورتیا او اتلواله د هرچا لپاره د شجاعت او قهرمانی مثال و هغه د کنصف د کلي په فتحه کې چې د خلقیانو لوی مرکز و برخه درلوده ، د علی زو کلی چه د خلقیانو مهم مرکز و د دوی د یوه قهرمانانه برید په نتیجه کې فتحه شو۔ لنډه دا چې نیاز محمد د کفر او الحاد په خلاف په ډیرو جګړو کې برخه واخیسته د ده زړورتیا حتی دده خپل ملګری هم اریان کړی وو ، ځینو به ورته د جګړی په وخت کې د احتیاط توصیه هم کوله خوده به خپلو ملګرو ته ویل : زما ګرانو ورونو ! شهادت زما لوړه آرزو ده ، او شهادت د دښمن نه په پټیدو کې نه ترلاسه کیږی ، زه هری جګړی ته د شهادت په تکل راځم خو. . . .

شپې ورځی تیریدی د ده سپین سری مور به هر وخت ده ته ویل : زویه ! واده وکړه ، زماپه زړه کې دا ارمان دی چه زما په ژوندکی ته په خیر واده وکړی ، زه هم د کور کارنشم کولای ، هغه به را سره مرسته کوی ، ستاد مجاهدو ورونو خدمت به هم کوی ، زما ډیر زړه غواړی چې د مجاهدینو کالی پریمنځم ، دوډی ورته پخه کړم خووس نلرم. . .!! کله چه هم نیاز محمد خپلی مورته څوځوځله وویل :

موری ! زه اوس د ځان او دخپل ټوپک مسئولیت لرم . د تا خدمت ته هم ځان رسولی شم ، خو که واده وکړم بیا به می مسئولیت زیات شی په جهاد کې به می سستی را شی ، زما زړه دی چې ټول ژوند په جبهه کې تیر کړم. . . خود مور ډیر ټینګاری دی مجبور کړ واده ته غاړه کیږدی د نیاز محمد مور په یوه متدینه کورنی کې چې د هغی کورنی ځوتنو ځوانانو هم د حق په سنګرونو کې د شهادت جامونه ښکلی وو دخپل زوی لپاره کوژده وکړه.

د ۱۳۶۰ کال د منی شپی ورځی وی د نیاز محمد د واده ورځی را نژدی کیدی ، موریې د خپل زوی دواده شپی ورځی شمارلی ، ترڅو د نیاز محمد د واده نیټه را ورسیده .

هو ! د نیاز محمد دواده سره سم د ده د لویونه د لوی ارمان د پوره کیدو نیټه هم پوره شوی وه ؟ !

دواده مراسم پیل شوی وو ، د میلمنو او دوستانو لپاره د خوراک او څښاک ترتیب نیول شوی وو نیاز محمد مجاهدو ملګرو د میلمنو هرکلی او خدمت ته ملاوی تړلی وی ، د ماز دیګر لمنځونه شوی وو چه د لری نه یو تن په منډه منډه کلی ته را روان و ، د کلی خلکو له یوی نوی پیښی نه د خبریدو انتظار کاوه چې هغه کلی ته را ورسید ، د خلکو سره یې ستړی مشی وکړه ، د جومات په چوتره کښیناست ، د هغه د ناستی سره سم یوه سپین ږیری ماشوم ته د چای راوړلو غږ وکړ او نوی میلمه ته یې مخ ورواړاوه او پوښتنه یې تری وکړه .

مجاهده ! خیریت خو به وی څنګه راغلی یې .

هغه خپل ټوپک چې په څنګ کې یې ایښی و ، راپورته کړ په زنګنو یې کیښود اووئی ویل :

بابا جانه ! نن د ګیرو په علاقداری د مجاهدینو لخوا حمله کیږی ، زه قوماندان صاحب را لیږلی یم چه مجاهدین تر ماښامه ځان را ورسوی ، زه نیاز محمد او نورو مجاهدینو پسی راغلی یم چه هغوی را سره لاړ شی .

سپین ږیری ورته وویل : زویه د نیاز محمد خو نن واده دی ، نور مجاهدین به لاړشی خو نیاز محمد ...

مجاهد د هغه خبره پریکړه اووئ وبل .

هو ! ما ته قوماندان صاحب وویل : «چی زه خبریم چی هغه پدی ورځوکی واده کوی که واده یې وو نو هغه دی نه راځی .

سپین ږیری او مجاهد د خبرو په حال کی وو چه نیاز محمد د جومات د دیوال له څنډی را ښکاره شو ، مجاهد ورته پورته شو ، هغه هم ورته راغی دواړو رو غبړ وکړ او کښیناستل ، نیاز محمد تری پوښتنه وکړه ، خیر خو به وی ؟

مجاهد د خپل واسکټ په جیب لاس کړ او یو خط یې راوایست او نیاز محمد ته یې ونیو ، او ورته وئ ویل دا خط قوماندان صاحب را کړیدی .

نیاز محمد خط پرانست چه وئ کوت ، نو جیب کښې یې کیښود او لږ شانته په فکر کی لاړ ، سپین ږیری تری پوښتنه وکړه زویه قوماندان صاحب څه لیکلی ؟ نیاز محمد ورته وویل : بابا جانه ! مولږ ئ غوښتی یو د عملیاتو پروګرام لری .

سپین ږیری ورته وویل : زویه ستاخو دواده شپه ده ، نور مجاهدین به ولاړ شی خو ته . . .

نیاز محمد وویل : بابا جانه ماته د جهاد سنګر دواده له شپی نه ډیر ارزښت لری زه باید ضرور لاړ شم .

سپین ږیری ورته وویل : زویه واده به دی تیر شی ، جهاد خو لا شته بیا به لاړ شی .

نیاز محمد ورته وویل :

بابا جانه ـ درسته ده خو زه نه غواړم چی د واده لپاره له جهاد نه پاتی شم ، زما ایمان ماته دا اجازه نه را کوی چه زما مجاهد ورونه دی د ګولیو تر باران لاندی وی او زه دی په کورکی شپه تیره کړم .

د سپین ږیرو او نورو کلیوالو د زیات ټینګار سره نیاز محمد پورته شو څو خپل ټوپک او کارتوس له کوره را واخلی او د مجاهدینو مرکز ته ځان ورسوی .

کورته لاړ ، خپلی خونی ته ننوت ، ټوپک ته ئ لاس کړ چی سپین سری سورئ د خونی دروازه را خلاصه کړه . هغه چه د خپل یوه زوی نیاز محمد د واده له امله ډیره خو شاله وه ، نیاز محمد ته ئ وویل :

زویه ! خیر خو به وی ټوپک څه کوی ؟

نیاز محمد ورته مخ را واړاوه او ورته وئ ویل :

مور جانی ! ما ته احوال راغلی په کنارو حمله ده ، زه ځم ، ته به د واده کار خلاص کړی ، تره ته می وویل چه خلکو ته به ډوډی ورکړی زه به انشاء الله را شم ؟ !

د مور سترګی ئ له او ښکوډکی شوی ، حیرانه ودریده ، نه پوهیده خپل زوی ته څه ووایی ، ځکه هغه د جهاد سره د خپل زوی له بی کچی مینی خبره وه ، هغه د خپل زوی په مزاج پوهیده چی زوی یې له هر څه نه تیردی خو د عملیاتو له شپی نه نه تیریږی . مورئ هم پدی راضی نه وه چه زوی یې د جهاد نه پاته شی خو د دواده په شپه تګ ئ ورته ګران و .

په زوره زوره ئ په ژړا لاس پوری کړ چی ګنی زوی به ئ د دی په خپګان له سنګر نه د واده لپاره را وګرځی ، خو نیاز محمد خپلی مور ته را نږدی شو ، د هغی لاس ئ په لاس کی ونیول ، او مخ یې کړل په مسکا کی ئ ورته وویل :

مور جانی ! ته پوهیږی چی د خدای رضاء تر هر څه پورته ده ، زه باور لرم چی ته به هم پدی راضی نه شی چی زه د دی لوی نعمت نه بی برخی شم ، د واده دا خوشحالی به ډیر ژر تیره شی خو زه غواړم هغه خوشحالی په لاس راوړم چه تل پاتی

وی ، ته راضی یې چې زه د دی یوی شپې په بدل کې
ابدی خوشحالی له لاسه ورکړم؟

موری پداسی حال کې چې د تکری په پیڅکه ئې
خپلې او ښکی پاکولې په ژړغونی آواز یې زوی ته
وویل :

زویه ! زه ډیره خوشحاله یم چه زما زوی
مجاهد دی خو . . .

نیاز محمد ورته وویل : موری نو خدای پامانی
را کړه ، د زړه له اخلاصه خدای پامانی را کړه .
گوره زما لوړ ارمان شهادت دی که زه شهید شوم
تا ته سوال کوم چې نه به را پسی ژاړې ځکه
شهادت ډیر لوړ مقام دی که زه در باندی ډیرگران یم
او دا لوړ مقام لاس ته راوړم ته هم پری راضی شه .
د لمرزرینو وړانگو چې د کړکې نه خونی ته را ننوتی
وی د خواږه زوی او گرانی مورد وروستی دیدن
ننداره کوله .

نیاز محمد خپل کمربند وتاړه ، د مور لاسونه ئې
ښکل کړل او د عایې واخیښه او ووت ، د جومات
د چوتری په لور روان شو .

نور مجاهدین هم تیار شوی وو ، نیاز محمد
ور ورسید او ورته وئې ویل ورونو راځئ چه ځو .

که څه هم د کلی سپین ږیرو نیاز محمد ته
د پاته کیدو وویل : خو د نیاز محمد تصمیم قاطع وه .
تول مجاهدین روان شول .

کله چې د جبهی مرکز ته ورسیدل د جبهی
د قوماندان سترگې په نیاز محمد ولگیدی ډیر خوشاله
شو په جگړه کې د نیاز محمد موجودیت ډیر ضروری و
ځکه د هغه جرأت او زړه ورتیا به په هره جگړه کې
د نورو مجاهدینو د مورال او روحیې د لوړتیا لپاره ډیره
گټه رسوله .

قوماندان صاحب د نیاز محمد او نورو مجاهدینو
سره دروغبړنه وروسته نیاز محمد ته مخ ورواړاوه
او ورته وې ویل چې واده دی څنگه شو تا خو ویل
چه پدی شپوکی کیږی . نیاز محمد ځمکی ته وکتل او
د عادتی مسکا سره یې قوماندان صاحب ته وویل :

وروره ! نن زما د واده شپه وه .

قوماندان صاحب یې خبره ورغوځه کړه او
وې ویل : څه وایې ؟ ستا واده و او ته دلته راغلی یې،
چا مجبور کړی ، ما خو هغه مجاهد ته ویلی و چه که
د نیاز محمد واده ونو نه دی راځی .

نیاز محمد سر راپورته کړ قوماندان ته یې په
ځیر ځیر وکتل او ورته وې ویل :

قوماندان صاحب ! ما هیله در لوده چه زما
پدی عمل کې به ته هم ما تائید کړی خو ! . . .

قوماندان وویل :

گوره نیاز محمده وروره ! جهاد له ما وتانه
نه ځی چه بس همدا نن شپه به جهاد وی بیا به نه
وی د مسلمان تول ژوند جهاد دی . ته باید د واده
مراسمو ته بیرته ځان ورسوی ، پلار دی هم
د خدای (ج) په لاره تالی په کورکی سپین سری مور
او یو سپین ږیری تره لری ، هغوی به زموږ په هکله
څنکه قضاوت کړی وی . . .

نیاز محمد ورته وویل : د کلی سپین ږیرو ، مور
او تره تولو را ته وویل خوزه نه غواړم د جهاد
شپه د واده په شپه بدله کړم او . . .

قوماندان په غصه ورته وویل : نیاز محمده
بیرته کورته لاړ شه ستا د واده شپه ده ، مور ، تره ،
ناوی او نور خپلوان به ستا انتظار کوی .

نیاز محمد ورته وویل :

قوماندان صاحب ! ډیر اصرار مه کوه . وروره
زه د شهادت په تکل راغلی یم زه غواړم دا نعمت
چې تاسو می لیری د شهادت په نعمت بدل کړم .
زما آرزو همدا ده چه د واده په شپه می خپل ځان

د شهادت په وینو کی ولمبوم .

قوماندان ډیر اصرار وکړ خو بی فایدی و مجاهدینو ته یی وویل راځی چه په خیر سره حرکت وکړو . د قرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو له تلاوت نه وروسته ټولو په ګډه اوږده دعا وکړه ، خپلی خپلی وسلی یی را اوچتی کړی او د الله اکبر د نارو په او چتولو د هدف په لور روان شول .

د شپی د ۸ بجو په شاوخوا کی د دښمن په مورچلونو د مجاهدینو ټوپک وچلیدل ، خونړی جګړه ونښته ، جګړه په شدت سره روانه وه د هری خوانه د الله اکبر نارو د دښمن په عسکرو کی شیبه‌په شیبه ویره زیاتوله خو تر ټولو زیات د نیاز محمد په دروند آواز د الله اکبر ناری د دښمن په زړه لکه د غیشی وا رونه وو . دښمن ډیر زیارایست چی د دی لوړ آواز د څښتن مورچه تشخیص کړی .

هغه یی پیدا کړه او تر سخت اور لاندی یی ونیوله ، تر ډیره وخته پوری د نیاز محمد له مورچی نه د الله اکبر د نارو سره یو ځای د دښمن په لور ډزی کیدی ، خو . . .

خو څو شیبی وروسته د دغه مورچی نه د ډزو آواز بند شو او د الله اکبر آواز هم ورو ورو کمیده ، قوماندان په یوه مجاهد غږ وکړ .

مجاهده ! ته ګوره چه د نیاز محمد د مور چی د ډزو آواز نه راځی ، څه و شول . مجاهد د دښمن د ګولیو په باران کی د نیاز محمد سنګرته ځان ورساوه . نیاز محمد دخپل ټوپک په ماشه ګوته ایښی خود سنګریوی ډډی ته پروت دی . مجاهد پری غږ وکړ .

نیاز محمده ! نیاز محمده !

خو !

خو نیاز محمد ته د ده د ارمان د پوره کیدو ګولی را رسیدلی وه ، هغه په خپلووینو کی د لوړ هدف د لاس ته راوړو په منظور لمبیدلی و . د توری ږیری په منځ کی یی د خندی نه د سرو وینو لښتی روان و .

مجاهد په منډه منډه قوماندان ته ځان ور- ورساوه او ورته ویی ویل : قوماندان صاحب نیاز محمد شهید شو .

قوماندان لوسړی «انالله وانا الیه راجعون» وویل او له هغه وروسته یی مجاهدینو ته د عقب نشینی اشاره وکړه ، په خپله را پورته شو او د نیاز محمد د سنګر په لور د ځاورو پنځوټنو مجاهدینو سره روان شو که چی ورسید ، سترګی یی له اوښکو ډکی شوی او په نیولی آواز یی وویل : نیاز محمده ! شهادت دی مبارک شه .

ستا ارمان پوره شو خو سپین سری مور ، تره او په نیکریزو سرو لاسونو نا وی دی په انتظار کی پریښو دل .

هغه یی را پورته کړاو جنازه یی د ده د کلی په لور را واخیسته د ده دواده مراسم لاپای ته نه وو رسیدلی ، خوڼا وی یی راوړی وه او مور یی د کلی له ښځو سره ناسته وه ، ټولو د نیاز محمد انتظار کاوه ،

د شپی د دوو بجو په شا و خواکی د کلی په کوڅه کی د خلکو د قدمونو آواز او چت شو ، د نیاز محمد تره په سپینه ږیره په منډه منډه له کور څخه راووت ، هغه پدی فکر کی و چه نیاز محمد به ژوندی په مخه ورشی او هغه ته به د فتحی او بری مبارکی وو ایی .

هو ! نیاز محمد ژوندی په مخه ورغی ، خو داسی ژوندی چی موقتی ژوند یی په ابدی ژوند بدل شوی و ، تره یی لانه و پوه چه جنازه د چاده ؟ جنازه د جومات چوتری ته یوړل شوه . د نیاز محمد تره هری خواته کتل خو نیاز محمد یی په نظر نه

راغی ، د جبهې قوماندان را مخته شو ، د نیاز محمد ترور ته یې وویل : کاکا د نیاز محمد شهادت دی مبارک شه .

د هغه تره چیغه کړه ، کټ ته یې ورمنډې کړل، څادری د نیاز محمد له مخ نه پورته کړ ، د نیاز محمد په سپین مخ سری وینې بهیدلې وې . د تره یې په سپینه ږیره کې د او شکو لښتې جاری شول ، ورو ورښکته سو په تندی یې ښکل کړ او ورته وې ویل :

نیاز محمده ! زما د زړه سره ! شهادت دې. مبارک شه .

دی صحنې د ټولو سترګې ډکې کړې

ټول حاضرین پدې فکر کې وو چې د نیاز محمد مور او ناوې به څوک خبر کړی ، بسم الله خان چه د نیاز محمد له خپلوانو څخه هم و ، د هغه د کور په خوا روان شو ، د کور دروازه خلاصه وه ، هغه د نیاز محمد کوټې ته ورننوت ، د نیاز محمد مور په وار خطایی را پورته شوه ، پوښتنه یې وکړه ، نیاز محمد څه شو ، هغه راغی ؟

بسم الله خان چه د پیښې د ویلو جرأت یې له لاسه ورکړی و سترګې یې له او شکو ډکې شوې او په نیولی آواز یې وویل ادې جانې ! د نیاز محمد جان شهادت دې مبارک شه . د دې او از په او ریدو د نیاز محمد مور سمد لاسه پر ځمکه را پریوته او بیهوښه شوه او بسم الله خان له کوټې ووت ځکه د دغې صحنې د لیدو توان په کې نه وه .

په کوټه کې واویلا او ژړا جوړه شوه . پدې فریاد او ژړا د کلي ما شومان هم را بیدار شول او هغوی یې هم د پیښې د معلولو لپاره و هڅول ،

مور یې د څه وخت نه وروسته په هوښ راغله ، د لیونۍ په شان را پور ته شوه ، هری خواته یې کتل ، د کوټې په شاو خوا به یې نظر وکړ چه د نیاز محمد هره ننبه او کالی به یې ولیده ورسره چیغه به یې کړه د کلي ښځو چه هر څومره د هغې ممانعت وکړ ، خو هغه له کوټې را ووتله د جومات په لور پښې لوڅې روانه شوه ، د جومات په چوتره یې د جنازې په کټ سترګې ولګیدې ، چیغه یې کړه په کټ یې ورسنډه کړه ، دخپل خواږه زوی له مخ نه یې څادر او چت کړ ، د نیاز محمد په سپین مخ یې د وینو لاری ولیدې ، د هغه مخ بیله ښکلا پیدا کړی وه ، موری سرور تیټ کړ او په تندي یې ښکل کړ .

پاتې په ۸۳ مخ کې



مسلمانان در یوگوسلاویا

از ابتدای حصول استقلال والغاء حکومت سلطنتی توسط «جوزیف بروز تیتو» در یوگوسلاویا ، مسلمانان در معرض بدترین حملات دشمنان اسلام قرار گرفته اند که ورود این حملات پلان ریزی شدهٔ ضد اسلام و مسلمین در یوگوسلاویا بعد از یک سلسله حملات و دستبرد هائیست که چندی قبل دولت بخاطر واداشتن مسلمین به ترک دین اسلام و اضمحلال هویت اسلامی آنها ، به آن متوسل شده بود .

مسلمانان تقریباً ۲۰ ساکنین یوگوسلاویا را که مجموعاً ۲۰ ملیون نفوس دارد ، تشکیل میدهند. که درینصورت تعداد مسلمانان در آنکشور بالغ به چهار ملیون بوده که در جمهوریت های ششگانهٔ یوگوسلاویا به سر میبرند.

اخیراً نتیجهٔ این حملات انفجاری بود که توسط مدعی العموم «لوبه خرنولی» در شهر «سراییفو» روز جمعه ۸ اپریل ۱۹۸۳ صورت گرفت که موصوف از قضیهٔ (۱۱) تن از مسلمانانی را که به عنوان اشرار و مرتجع !! در بند کشیده شده بودند پرده برداشت. اینهم سرگذشت رقتباری که مسلمانان در یوگوسلاویا به آن سر دچارند .

بعد از آنکه دولت عثمانی رو به ضعف نهاد مسلمانان در سال «۱۹۰۰» در ایالت «صربیا» برهبری «علی جایتش» قیام نموده و به استقلال داخلی خود نایل شدند اما بعد از جنگ جهانی اول و تأسیس دولت یوگوسلاویا مسلمانان به یک حملهٔ وسیع و تازهٔ روبرو گردیدند که در نتیجه تعداد زیاد از ایشان به مملکت ترکیه و البانیا مجبور به هجرت شدند و همچنان در سال «۱۹۱۹» مسلمانان در ولایت «بوسنه و هر سک» به جهت تنظیم صفوف خویش یک حزب اسلامی را بریأست دکتور محمد سباهو تأسیس نمودند که متعاقباً جنگ دوم جهانی بوقوع پیوست که بار دیگر مسلمانان مورد حملات شدید دولت یوگوسلاویا قرار گرفتند.

و بارویکار آمدن «جوزیف بروز تیتو» در سال ۱۹٤۹ تجاوز حدنهائی اش را طی کرد ... و حزب کمونیستی یوگوسلاویا برهبری «تیتو» علیه مسلمانان قهام نموده زهر خشم و غضب خود را برایشان

ریختند مساجد و مدارس اسلامی را نابود ساختند . . .
در ولایت «بوسنه و هرسک» ده ها هزار مسجد و مدرسه وجود داشت ، تعداد مساجد در شهر «سرایيفو» که مرکز ولایت بود به (۷۰ ۸) مسجد ودر شهر بلغراد به (۲۷۰) مسجد بالغ میگردید که تمام آنها بجز از یک مسجد منهدم گردید .

و امروز مسلمانان یوگوسلاویا باز هم مورد دستبرد حملات و تجاوز گریهای حکام جدید آنکشور قرار گرفته اند چنانچه در بهار سال «۱۹۸۱» مسلمانان البانیائی که در یوگوسلاویا مسکن پذیر شده اند ، جهت مطالبهٔ حقوق شرعی شان همانند سایر اهالی آنکشور ، قیام نمودند . . . در مقابل از طرف دولت با آتش تانکها و تیربارانها پاسخ داده شد که منتج به نابودی هزاران تن از مسلمانان بی گناه در ولایت «کوسوفا» گردید و این عمل به خاطر بزرگداشت محفل سالگرهٔ «تیتو» صورت گرفت ! !

در روز یکی از عید ها مسلمانان بخاطر اداء نماز عید در مسجد «فوجا» واقع در جمهوریت «بوسنه» اجتماع کرده بودند که دولت ازین گرد-همائی احساس خطر نموده بعد از محاصرهٔ مسجد اطفال، زنان و مردان بی گناه را به آتش کشیدند که در نتیجه هزاران تن از مسلمانان بقتل رسیده وعدهٔ هم فرار کردند که فوراً قوهٔ نظامی دولت پل های شهر (فوجا) و (قراجده) را تحت محاصره آورده مسلمانان را بعد از دستگیری کشتند و بدریای (درینا) پرتاب نمودند که آب دریا از خون مسلمین رنگین شده بود .

و این مدت طویلی را که مسلمانان یوگوسلاویا با تحمل مشقات و ظلم و شکنجه ها سپری کردند ، و اینهمه خاموشی های را که در برابر جنایات کمونیست ها از خود نشان دادند علا جگر درد آنها نشده و از ایشان اند کی هم شفاعت خواهی نکرد ، بلکه هنوز هم سردمداران حزب در هر زمانی به حملات وحشیانهٔ ضد مسلمین دست میزنند ، چنانچه روزنامهٔ (بولتیکا) بتاریخ ۲۴-۳-۱۹۸۳ گوشهٔ از بیانیهٔ «برانکو میکولج» را به نشر میرساند که در مجلس مورخهٔ ۲۲-۳-۱۹۸۳ اتحادیه کمونیزم در شهر (موستار) ایراد نموده بود . موصوف به استناد نصایح که رفیق (تیتو) بتاریخ ۲۰-۱۱-۱۹۷۹ در شهر (یوتوینا) (۲) ابراز داشته بود به قسم استهزاء و تهدید آمیز یاد آور میشود که :

(تنها ملیت ها قیام نکرده بود بلکه تمام دشمنان و بد خواهان کمونیزم در جنگ ضد اشتراکیت و نظام سیاسی و اقتصادی موجوده دست بهم داده و حتی متعصبین نیز گمان کرده بودند که حالا فرصت قیام علیه نظام دیموکراتیک لیبرالی سیاسی و اعادهٔ حکومت بورژوازی فرا رسیده است . برانکو اضافه میکند : مسلمانان به جنگ مقدس (جهاد) ایمان داشته اسلام را چنین تعبیر می کنند که : آئینیست جنبه های فلسفی و عقیدوی را دارا بوده و نسبت به مسیحیت که بر روح اهتمام خاصی قایل بوده و از سایر جنبه های حیاتی و مادی چشم پوشی می کند و نسبت بمادیتی که به زندگی مادی توجه داشته و از احتیاجات روحی خود را مستغنی میشمارد ، راه معتدل و میانه را میپیماید ، ایشان مساجد را محل عبادات و حل و فصل همهٔ مشکلات و مسائل اجتماعی قلمداد نموده پیشوایان دینی را مستحق ریاست و رهبری دولت اسلامی میشمارند .

برانکو علاوه می کند که : مسلمانان در مبارزه با کمونیزم به نشر و چاپ کتب و مجلات اسلامی دست میبرند که لبریز پوچ و دروغ پردازی هاست مانند کتاب سرطان سرخ (کتاب الاسلام فی الزحف الاحمر) نوشتهٔ استاد محمد الغزالی و کتاب (نقد جذور الشیوعیة) و . . . امثال این نوع کتابها که اعضای حزب منحل شدهٔ جمعیت جوانان مسلمان وعدهٔ از مستشرقین مسئولیت نشر و توزیع آنرا بدوش دارند ، این امر ایجاب می کند که تا همهٔ قوای سیاسی و عملی را علیه دشمن کمونیزم ، اشتراکیت ، اخوت و وحدت بکار اندازیم . موصوف بادامهٔ سخنانش می گوید که ! تعین یک سلسله عقوبات و مجازات آموزندهٔ به این دسته دشمنان ، قطع نظر از تکلیف و حالات اجتماعیشان، امر طبیعی و ضروری است !)

اما در برابر اینهمه تعرضات و تجاوزاتی که علیه مسلمین در یوگوسلاویا صورت میگیرد پیروان سایر ادیان به هیچنوع ازین تکالیف سر دچار نبوده و هنوز در فراغت و نشاط بیشتر از مامورین دولتی که هر لحظه امنیتش در معرض تهدید است ، زیست می کنند ، کاتولیک ها در یوگوسلاویا به حدی نیرو گرفته اند که توانستند با طرح پلانها تنظیمی را بنام «حزب مارینی» تأسیس نمایند که این حزب دارای قطعات عسکری نیز میباشد که بنام «جیش مریمی» یاد گردیده و یونیفورم مخصوص ، انتساب قطعات موصوف را به آن حزب واضح میسازد باوجود این همه فعالیت ها هیچ یک از پیروان کلیسا مورد تهدید قرار نمی گیرند اما در مقابل رهبران و پیشوایان مسلمان به شمول امامان مساجد و . . . دستگیر و بزندانها افگنده میشوند ، چنانچه امام مسجد «قراجده» بعد از دستگیری مدت پنجسال محکوم به حبس گردید این بخاطری بود که امام موصوف اطفال خورد سال را در مسجد آموزش دینی میداد با آنکه قانون یوگوسلاویا حریت و آزادی ادیان را اعلام میدارد . . .

حملات ضد فرهنگی . . .

باید یاد آور شد که یوگوسلاویا از هر نوع اصول و مبادی فرهنگ اسلامی عاری گردیده و مبادی اسلامی شدیداً مورد استهزاء و حملات بیشرمانهٔ قرار گرفته است . و هیچ گونه مسایل و موضوعات جزئی و کلی اسلامی وجود ندارد که بباد تمسخر کشانیده نشده و حتی مسلمین یوگوسلاویا را خاین و مرتجع قلمداد می کنند .

و هنگامیکه در مجله «البعث الاسلامی» جهت توضیح حقایق ورد پروپاگند ها و توطئه ها ، سید حسن جوزو مدیر مسئول مجله مطالبی را به نشر رسانیده و متعاقباً به مناسبت افتتاح یکی از مساجد بیانیهٔ ایراد داشت که ضمن گفتارش مسلمین را با کاف «برادران مسلمان . . . » خطاب نموده و قرن پانزدهم را به ایشان تبریک عرض داشت . که فوراً مقامات دولتی همین جمله «برادران مسلمان» را دستاویز نموده و نشرات و روزنامه ها با مذمت و فحش ، موصوف را مورد هجوم قرار دادند و متعاقباً از مسئولیت مجله نیز سبکدوش گردانیده خواستار شدند که دیگر هیچ اقدام اسلامی از نزدش سر نزند .

همچنان (الحاج نعیم عبدتش) رئیس العلماء را به ارتباط قضیهٔ حسین جوزو از وظیفه برطرف ساختند . و هنگامیکه حسین جوزو را از مجله را ندند درعوض یکتن از هواداران خود را تا مدتی مقرر نموده و بعدتر امر توقیف مجله را صادر نمودند .

در پایان کنفرانسی که بتاریخ ۸ اپریل ۱۹۸۳ میلادی ... ضد اسلام دایر گردیده بود. مدعی العموم «لوی خارلوال» شهر «سراییفو» دستگیری یک گروپ یازده نفری مسلمانان را اعلام داشته متهم نمود که ایشان سازمانی را بوجود آورده الله نظام (جوانان مسلمان) که این تنظیم یک سازمان دهشت افگن، شریر و مرتجع بوده و به جهت برهم زدن یکپارچگی جامعه یوگوسلاویا فعالیت نموده و مردم را به تعصبات قومی و نژادی دعوت می‌نماید. منابع مطلع تعدادی از دستگیر شدگان را از جملهٔ پیشوایان و مسئولین امور اسلامی در داخل یوگوسلاویا قلمداد نموده و اسمایشان را در ذیل یاد آور گردیده که ما لازم بیاد آوری نمیدانیم. و جریانات تحقیق دستگیر شدگان هنوز هم ادامه دارد.

و همین گونه طبقهٔ طلاب مسلمین یوگوسلاویا که در شهر های عربی مصروف تعلیم و تربیه هستند از طرف مقامات کمونیستی به مضایقهٔ همیشگی دچار میباشند ولی باوجود اینهمه از حد گذریها ـ روابط دول عربی هر روز با یوگوسلاویا به نسبت آنکه یکدولت غیر منسلک است، ازدیاد یافته و کمک های اقتصادی و فرهنگی را توسعه بخشیده خطوط پرواز هوائی را نیز با آندولت باز نموده اند و ضمناً هر نوع کمک های مادی و مساعدت های مالی را دریغ نمیورزند ـ در حالیکه مسلمانان در آنجا بوضع رقتبار و تحت شکنجه و تحقیر بسر میبرند. دول عربی به این نظر هستند که دولت یوگوسلاویا عمیل عرب و مسلمین است و به همین ارتباط نشرات دول عربی نیز به توصیف و تمجید (تیتو) بعنوان یک قهرمان غیر منسلک همه وقته پخش میگردد غافل ازینکه موسیقی ملی یوگوسلاویا داستان (کرالیفو ملاکو) را که دست به قتل عام عرب زده بود به ترانه میخواند.

تعداد مسلمانان در یوگوسلاویا :

تعداد مجموعی مسلمانان در جمهوریت های ششگانهٔ یوگوسلاویا به ۴/۵ ملیون میرسید که از جمله :

در جمهوریت (سلوفانیا) که در شمال غرب کشور واقع بوده و مرکز آن (لوبلیانا) است اکثر کاتولیک ها زندگی داشته مسلمانان در اقلیت محدود قرار دارند.

در جمهوریت (صربیا) که مرکزش (بلغراد) است تعداد مجموع ساکنین آن ۹ ملیون بوده و تعداد مسلمانان ۱/۵ ملیون است.

در جمهوریت (کراوتیا) تعداد مسلمانان بیشتر از ده هزار تن میباشد.

در جمهوریت (البوسنه والهرسک) تعداد مسلمانان بالغ به ۱/۵ ملیون بوده و تقریباً ۵۰ ساکنین آنرا تشکیل میدهند و (سراییفو) مرکز آن بوده و یکی از شهر های بزرگ اسلامی به شمار می آید.

در جمهوریت (مقدونیا) که مرکزش (سکوبیا) است تعداد مسلمان به چهار صد هزار نفر بالغ گردیده و ۲۵ ساکنین آنرا ـ که مجموعاً یک ملیون و شش هزار نفوس دارد تشکیل میدهند.

در جمهوریت (الجبل الاسود) که در سرحد البانیا واقع میباشد تعداد مسلمانان تقریباً به یکصد هزار نفر بالغ میگردد.

ج : سرفراز

د رسول الله (ص) عفوه او شخصي انتقام

د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و آله و اصحابه وسلم د خپل ژوند په اوږدو کښی ټول هغه کارونه چی قرآن کریم د دوی په اوږو ایښی وه په پوره ډول سرته ورسول - هیڅ داسی اړخ او څنډه ئی پری نښو ده چی هلته د ده امتیان د ده د مبارک ژوند یوه نمونه د لیاری مشال و نه مومی قرآن کریم چی ورته فرمایلی وه :

فاعف عنهم : دوی (اصحابو) ته ښښنه وکړه.
(سورة ال عمران)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پدی برخه کښی هومره په اخلاص او صمیمیت قدم واخیست چی د انسانیت د پوره والی او څرګند والی او چته او آخرنی پوړی، ئی په ریښتنی ډول تمثیل کړه .

هغه وخت چی د حنین په سخته او ډاروونکی ورځ کښی تری ټول یاران او دوستان د جنګ د سختوالی له کبله و تښتیده - او دی ئی یوازی پری - ښود - خو ده ئی له دی چی خپلو اصحابو ته غبرګړی چی زه دغه یم زما په لور راشی - نه ئی دجنګ په دوران کښی کومه د قهر ، او زجر کلمه وویله - او نه ئی له جنګ نه وروسته چا ته کومه رټونکی خبره وکړه .

براء بن عازب د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زړور توب ، د خپل په لیار کښی ئی ثبات او ملګرو ته ئی د عفوی کیسه داسی بیانوی : یوه سړی ما ته وویلی چی ای د عماره پلاره ریښتیا ده چی تاسو د حنین په ورځ له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه تښتیدلی واست ؟

ما وویلی هو ! خو رسول الله صلی الله علیه وسلم تیښته ونکړه ؟

د هوازن قبیله غشی ویشتونکی قبیله وه - کله چی موږ جګړه ورسره شروع کړه هغوی ماتی وخوړه - زمونږ څینو ملګرو په غنیمت را ټولولو پیل وکړ هوا زنیانو چی زمونږ دا حال ولید په مونږ ئی دغشو باران شروع کړ بیا نو زمونږ ملګرو ونشو کړای چی پښی ټینګی کړی .

ما سفیان بن الحارث ولید چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سپین اوښ واګی ئی په لاس کښی نیولی وی رسول الله صلی الله علیه وسلم په میدان کښی ولاړ او چیغی ئی وهلې .

زه پیغمبریم، درواغ نه وایم - زه د عبدالمطلب لمسی یم . (متفق علیه)

او پدی ترتیب ئی د اسلام راتلونکو ټولو مشرانو - او د اسلامی لښکر ټولو قوماندانانو ته عملی درس ورکړ چی :

د مسلمانانو مشر باید تاند ووهی چی د خپلو لښکریانو اعتماد او باور هومره ترګو توکړی چی که د تیښتی او ماتی ورځ هم وی - د مایوسی او پښیمانیت مرحله هم وی - مسلمان مشر - باید په میدان کښی ټینګ ولاړ وی - او د حق او واقعیت نه د دفاع په مرحله کښی که څه هم یوازی پاتی شی - که څه هم په غشو، سوری، سوری، او بدن ئی له زخمونو ډک شی غاښ ئی شهید - سرئی مات او د دښمنانو له خوا د وژونکو ګذارونو سره مخ شی .

د جګړی میدان پری نږدی - او نورو ته ثابته کړی چی زه د دی لیاری په رښتینولی هومره قانع یم - چی د ځان په قربانی ئی رښتینولی ثابتوم .
او هم ئی د اسلام راتلونکو مشرانو ته ښوونه وکړه چی باید په خپل رعیت هومره مهربانه او نرم خوا وی چی که کله مو د غم په ورځ کښی هم یوازی پریږدی خو ډیر ژر ستاسو په بلنه خپل مسؤلیت ته متوجه او په یو صف کښی درسره و دریږی .

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دغه او چت صفت څرګندونه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها - په یو حدیث کښی داسی بیانوی .

هیڅکله ئی د ځان لپاره انتقام ندی اخیستی خو چی کله به د خدای حکم تر پښو لاندی شو نو بیا به ئی د هغه بدل اخیسته . (بخاری او مسلم)

د ځان لپاره د انتقام نه اخیستل - هغه هم پداسی حال کښی چی د انتقام اخیستلو ټول وسایل - او ټول امکانات پوره وی کوم اسان کار ندی.

خو لدی کبله چی د انتقام نه اخیستلو کار د انسانانو په زړونو د زرګونو کتابونو لوستلو - او موعظو او خطبو څخه زیات اثر لری - ځکه هر مسلمان پدی مکلف شوی دی - چی د بل مسلمان ورور په مقابل کښی ښښنه وکړی - عفو ورته وکړی او د انتقام فکر له یاده وباسی او د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپل عملی ژوند سره ثابته کړه چی د مسلمانانو مشران د نورو غوره او ښکلو صفاتو او نبوی اخلاقو د خپلولو په لړی کښی د دغه صفت په خپلولو تر ټولو زیات مکلف شوی دی .

ځکه په کومه ټولنه او اجتماع کښی چی د مشر سره داحس اوارا ده پیدا شوه چی د خپلو شخصی کارونو په برخه کښی د رعیت له ځینو خلکو څخه انتقام واخلی - هغوی - محاکمی - زندان - او قضا ته سوق کړی - په هغی ټولنه کښی د ورور ګلوی - مینی او محبت فضا ورکیږی - هغه ټولنه بیا نشی کولای د ټولنی د اساسی ستونزو د حل په لیار کښی قدم واخلی.
ځکه د ټولنی مشر به د ټولنی فعال او کارکوونکی خلک یو په بل پسی د خپلو شخصی انتقامونو په نتیجه کښی له کار، فعالیت او تحرک څخه غور زوی او ځای به ئی بالآخره هغه څوک نیسی چی هغه بی د ټولنی د مشر د خدمت څخه بل حس او اراده ونلری .

او طبیعی ده چی د کارونو او کړنو په دوران کښی د خبرو ، نظریو ، فکرونو او حتی د تصمیم نیولو اختلافات مینځ ته راځی .

خو چي د ټولنې مشر په ټولو د عفوې ـ حکم اعلان کړي ـ د شخصي انتقام اخيستلو فکر او اقدام پرېږدي ـ ټولې ستونزې به حل ـ او د ورورۍ او صميميت فضا به بېرته را وګرځېږي .

او که نه نو د ټولنې هر غړي چي څه درک او د مسئوليت احساس ورسره وي تل به پدې فکر کښې وي چي له دغسې انتقام اخيستونکو او لجوجو مشرانو څخه څنګه خلاص ـ او بې غمه شو .

د هغوی د عقل ، علم ، او استعداد زور او توان به ددې پرځای چي د اسلام د روښانه او ځلانده دين د اصولو په تطبيق کښې په کار واچول شي ـ بې ځايه او بې مورد ده به له کاره غورځېدلی وي . او هغه چي دنيوي ژوند ـ آخري ژوند ګڼي تل به پدې لټه کښې وي چي موازي همدغه ژوند تېر کړي ـ اخرت او اخروي ژوند به د تل لپاره شاته غورځوي .

هو !

د خدای لپاره انتقام او بدل اخيستل د اسلام د پيغمبر عادت او خوی‌دټولنه پرې جوړېږي او د بد يو مخه پرې نيول کيږي .

خو دا واقعيت دی او ورځنۍ پېښې ئې ثابتوي چي هغه څوک د ځان لپاره انتقام اخلي ـ هغه د دې توان نشي پيدا کولی چي د خدای لپاره هم انتقام واخلي .

د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم د ځان لپاره د انتقام اخيستلو حس هومره مړ کړی و ، چي د لاندینې پېښې لوستل هر انسان په تعجب کښې غورځوي ـ او متوجه کوي ئې چي اسلام له مسلمانانو او د مسلمانانو له مشرانو څخه څه هيله لري او دوی څه کوي ؟

حضرت انس رضی الله تعالی عنه وائي :

زه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره روان وم د رسول الله په غاړه کښې د سختو څنډو والا نجراني څادروه ـ بانيزه يو بانده چي راغی او له څادر څخه يې ټينګ ونيو او د ځان په لوري را يې کښکلو ـ ما د رسول الله غاړې ته وکتل ومې ليده چي د څادر څنډې د هغه په غاړه کښې ننوتلې دي .

بيا هغه سړي رسول صلی الله عليه وسلم ته وويلې ای محمده (ص) له هغه مال څخه چي تا ته خدای درکړی دی ما ته څه را کړه !

رسول الله ورته وکتل :

وئې خندل ،

بيائې امر وکړ .

چي څه ورکړي .

(فاعتبروا يا اولی الابصار)

د تیروګنو په لړکی

داسلامی بلنی پیل

ابتلاء اواز میښت :

تردی وخته پوری چی اسلامی دعوت کوم کار کړی ؤ نتیجه یُی په د ریو صورتونوکښی څرګنده شوه .

۱ـ یو شمیر نیکو او غوره کسانو دغه بلنه و منله ـ یوه ډله یی جوړه کړه او په هر قیمت د تحریک د پر مختګ لپاره چمتو شول .

۲ـ یوګڼ شمیر خلک د خپلی ناپوهی ـ خپل سری یاد خپل پلارنیکه د تتی ګروهی په وجهه د دغه تحریک مخالفت ته چمتو شول .

۳ـ دغه نوی بلنه د مکی او قریشوله حدودونه و وتله او نسبتاً پراخی حلقی پوری ورسید له . پدی اساس د دغه نوی تحریک اوزاره جاهلیت ترمنځ یو سخت کشمکش پیل شو. کومو خلکو چی غوښتل په خپل زاړه دین یعنی جاهلیت پوری تړلی وی هغوی په پوره قوت سره د اسلامی تحریک له منځه وړولو لپاره ملا وتړ له او اسلام منونکو باندی یی خوراډیر وحشیانه ظلم او زور زیاتی پیل کړ او په هر راز تضعیفولو یی رضا شول نو په همدی اساس د اهغه دوره ده چی په دی کی د قریشو د ظلمونو خو رازیات عبرتناک واقعات زمونږ سخ ته راځی .

د عربو غوندی ګرم ملک کی یی د سختی ګرمی او تکنده غرمی په وخت کښی مسلمانان په سره شګه اوږ ده څملول په سینو باندی یی درنی ډبری ایوښودلی او بیا یی فشارور کول په سره او سپنه یی د اغزۍ اوبوکی یی غوټه کول په ډیره بی رحمی یی وهل ټکول.لنډه دا چی دا او د اسی نور مظالم وو چی پر مسلمانانو باندی به تطبیقیدل . که څه هم پدی ډول پدی دوره کښی د مسلمانانو لپاره ژوند ون ګران و مګر په تاریخ کی چی د کومو مظلومانو د داستان یوڅه برخی را نقل شوی دی یوڅو بیلګی یی په لاندی توګه دی .

حضرت خباب(رض)د ام انمار مریی ؤ تر دغه وخته پوری نزدی شپږو او وتو اسلام را وړی و چی دی هم په اسلام مشرف شو او په دغه جرم د قریشو د مظالمو نښه و ګرځید ، یوه ورځ قریشو په زمکه باندی سکروټی ښبی تازه کړی او دی یی له پاسه پری څملاوه او یوتن یی په ټټر باندی وخوت او ټینګ یی و نیو چی په اړخ وا نه وړی ترڅو پوری چی هغه سکروټی ترشا لاندی سړی شوی حضرت خباب (رضی الله عنه) تر ډیری مودی و روسته د حپلی سوزیدلی شا سپین (پیس په شان) دا غونه ښکاره کړی وو .

حضرت بلال رضی الله عنه د امیه بن خلف مریی ؤ پوره د غرمی وخت ؤ چی هغه یی په سره شګه څملاوه سینه باندی یی درنه ډبره کښیښوو د له

او ورته يې وويل ـ اسلام نه انکار وکړه که نه په همدې کړ او او سختي کې به مړشي خود درد په همدې سخت حالت کې هم د هغه د خولې څخه د (خداي(ج) يودی ، خداي يو دی) اواز را ووت با دار به يې غاړه کښي پرې وتړه هلکانو ته به يې لاس کې ورکړ او د ښار يوې خوا بلې خوا به يې را ښکوده .

حضرت عمار رضي الله عنه د يمن او سيدونکی ؤ دی د هغو همتناکو خلکو د جملې څخه دی چې په همدغه لومړي سر کښي مسلمان شوی وکله چې ده اسلام راووړ نو قريشو به په سوزنده ځمکه باندی څملاوه او دو مره به يې و واهه چې بې هوښه به شو . حضرت لبينه رضي الله عنها د اسلام را وړلو نه د مخه هغه د و مره زياته ووهله چې هغه په خپله د و مره ستړې شو چه کښيناست خود الله دی بنده به همدا ويل چې که ته اسلام را نه وړې نو خدای(ج) به تا نه دعه انتقام و اخلي .

حضرت زبيره رضي الله عنهاهم د حضرت عمر رضي الله عنه د کاله وينځه وه يوه ورځ ابو جهل د ومره و وهله چې سترگې يې ړندې شوې لنډه دا چې په نارينه او ښځو کښې ډير داسې د پاره او ار مسلمانان وو چې ډول ډول تعذيبونه به يې هغوی ته ورکول خوله دی تولو مظالمو سره سره يو مسلمان‌هم اسلام پرينښو د لو ته چمتونه شو . نو خامخواه خلک هغوی ته متوجه کيدل او په زړه کښي دی سوچ کولو ته مجبور يدل چې اخر دا نو څه راز غوښتنه ده چې دا خلک د دو مره مصيبتونو سره سره بياهم له اسلام سره د پيوستون لپاره چمتو کيږي تول په دی پوهيدل چې دا خلک د خپلو اخلاقو، معاملو او نورو انساني اړيکو په اعتبار تر ټولو غوره انسانان او د د وی گناه پرته له دی بل څه نده چې وايي موږ له الله(ج)نه پرته بل څوک خپل رب، (بادار ، مالک او معبود) نه نيسو اطاعت او بندگی به يوازی د هماغه کوو[۱] .

---

(۱) لمنليک .

